مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۴/۰۱/۲۳

د لنډیو پر ټټر باندې د کډوالۍ انځور

۴۹مه برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۲۶۹مه برخه

پنجاب پنځه ګوتې په خوله کړې
د پښتنو بلوڅو خورې روا حقونه

د ایراني یارې ونه‌کړې
یا څه چې وایي هغه کړه، یا دې رټینه

جګړې ته مه‌خوشاله کېږئ
جنګ هرڅه سوځي، بیا به ځئ په هجرتونه

د دې برخې له‌پاره دا لنډۍ غوره شوې دي:

سر ته به غټه تیګه کېږدم
پردی وطن دی، په‌کې نه‌شته بالښتونه

دوستي‌تې هو ویلی نه شم
زموږ کروندو کې یې شیندلي باروتونه

مسافرۍ نه په‌خیرراغلې
نور به بې‌غم یې د پردو له ستمونه

سترګې مې تاپسې رندې شوې
ګرانه وطنه ته مې کور، ته مدفنونه

پنجاب پنځه ګوتې په خوله کړې
د پښتنو بلوڅو خورې روا حقونه

د ایراني یارې ونه‌کړې
یا څه چې وایي هغه کړه، یا دې رټینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وطنه هڅې خو مې وکړې
د رغېدو په هیله زه هم زهیرشومه

مسافر ته شوې، خواره زه شوم
تا په پردي وطن کې څه لیدلي دینه

اوبه دانه نه‌ده تمامه
د سیاست او ګټې پار دی، موږ شړینه

اخر شوې‌پاتې پاکستانه
ناپوه بچي دې په موږ کډې بارویـنه

اخر ورانېږې تورپنجابه
خوارمهاجر ماشوم ښېرې درته کوینه

وطن دې ما وران کړی نه‌دی
خوشې پرما باندې ته مه‌ږده ټُهمتونه

صبر کاسه مې شوه نسکوره
ګاونډه لږصبر کوه دغه‌دی ځمه

زما د بخت‌ستوری ښکاره شو
اواز یې راغی چې ټول ګد وطن ته ځوونه

تهران هم مار دی هم ښامار دی
چې زور پرې راشي عاجزي غوره کوینه

لرې کې مرم، نږدې سوځېږم
افغانستانه زغم د دواړو نه‌لرمه

چې ظلم کړي، غم دې میلمه شي
ویر ته نږدې یې، هرکلی به دې کوینه

جګړې ته مه‌خوشاله کېږئ
جنګ هرڅه سوځي، بیا به ځئ په هجرتونه

پردي وطن کې مزدور مه‌شې
وطن ته راشه په ارام وکړه کارونه

ودې‌ویشتم، په یاد یې ساته
چې لاس مې برشي، بیا به درکړم ځوابونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ